مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۸/۱۲/۲۱

# پاتې سلام، پاتې کلام



د لمر زرینو وړانګو

د وریځو زړه کړ څیرې

د لوڅو ونو، ګڼو څانګو، ګڼه ګوښي ځینې

زما پر لوري سرې راماتي شولې

را رسیدو سره يې غلې ووې:

تا ته سلام لرمه

او یو کلام لرمه

ستاسو له کلي نه د چا یو ښه پیام لرمه

ما خپلې سترګې او غوږونه چې څو

راسمول هغه سلام کلام ته

بیا د لمر مخه تورو ورځو ډبه کړې وه نور

۲۰۱۸/۱۱/۱۴
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ